د احمد شاه بابا دیوان

سریزه

د

حبیب الله رفیع

تدوین او ترتیب

[illegible]

Ketabton.com

۱۹۹۹/۱۳۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب پېژندنه:

نوم	:	د احمد شاه بابا ديوان.
سريزه	:	حبيب الله رفيع.
ترتيب او تدوين	:	مومن موحد
کمپوزر	:	نور محمد نور.
کپوز	:	ايشيا سافټ. پېښور پښتونخوا.
د خپرېدو کال	:	۱۳۷۸ ۱۹۹۹
خپروونکی	:	دانش کتابتون. قصه خواني. پېښور ټيليفون: ۲۵۶۴۵۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپرندوی یادښت

احمد شاه بابا د لوی افغانستان مؤسس او خواخوږی پښتون واکمن ؤ چې د افغانانو د مېړانې تاریخ یې د نرۍ پر مخ ځلولی دی.

دی له ومره ډېرو جګړېزو خوځښتونو او یونونو سره سره یو فرهنګیال او فرهنګپال شخصیت هم و چې د ده له مېړانې سره د ده د شعر انګازې هم له ایرانه تر هنده پرتوله سیمه خپرې وې. ګرانو لوستوالو ته به د احمدشاه بابا د درانه شخصیت د واکمنۍ او چارو په اړه بشپړ معلومات وي او دا به هم ورته څرګنده وي چې هغه د سیمې پر خومره ستراتیژیك ځای واکمن ؤ، ځکه نو د ده بې ساري بوختیاوې هم ورته څرګندې وي له دې سره سره چې ده بیاهم پښتو شعر وایه، له یو شاهکار پرته ورته بل څه نه شو ویلای. د ده د شعر دېوان دوه ځله خپور شوی لومړی ځل پر ۱۳۱۹ په کابل کې د لوی استاد پوهاند حبیبی او بیا د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډمۍ له خوا خپور شوی، چې د لوستونکیو د مینې له امله له چاپېدا سره سم تری تم شوی دی .

دانش کتابتون دې اړتیا ته په پاملرنه له ډېر مهال راهیسې دا هیله په زړه کې پالله چې د سیمې د دغه نامتو واکمن د شعر دېوان د نوې ښېړنې په ترخ په ښکلې بڼه بیا خپور او رامنځته شوې خلا له منځه یوسي. له نېکه مرغه یې د خپرېدا مهال اوس راورسېد.

موږ هیله من یو چې د لوی احمدشاه بابا دېوان بیا خپراوی د پښتنې فرهنګ په وده کې ارزښتمن وګڼل شي.

په درناوی

دانش کتاب خپرنځی پېښور

۱۳۷۸/۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د سريزې پر څای

[۱]

پنځلسمه، شپاړسمه او اوولسمه پيړۍ د افغانستان په سياسي ژوند کښې ډېرې بدمرغې پېړۍ وې، همدې بدمرغيو د ژوند پر ټولو اړخونو سيورې کړې وې.

په دې پېړيو کښې افغانستان ملي حکومتونه له لاسه ورکړې وو، د واک څواکونه ډېر کمزوري، محلي اوکاواکه وو. د هېواد ختيځې سيمې د هند کورګانيانو لاندې کړې وې. د هېواد پر لوېديځو سيمو ايراني صفويانو خېټه اچولې وه او د هېواد شمالي سيمې د ماوراءالنهر د شيبانيانو لاس ته لوېدلې وې. تر دې چې زمونږ هېواد دې پرديو څواکونو تر خپل منځ د مقابلې ډګر ګرځولی و، او زمونږ پر خاوره به يې له يو بل سره جګړې کولې.

له دې سره - سره افغانان هم تسليم شوي نه وو که سياسي واکمنۍ يې کمزورې وې هم، ملي اراده يې پياوړې وه او د هېواد په ګوټ ګوټ کښې يې يرغلګرو او اشغالګرو ته پاځونونه کول او دوی ته يې اساسي ستونځې راولاړولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې لړ کښې د هېواد په ختيځو برخو کښې پوره سل کاله روښاني غورځنګ په غورځنګ وو او د دښمن پر نظامي، سياسي، فکري او اقتصادي تاسيساتو يې بريدونه کول او هغه يې رانړول.

دا غورځنګ پر دښمن ظاهراً بريالی نه شو او د ښمن يې راونه پرځولای شو، خو د نورو غورځنګونو پيدا کولو ته يې لاره هواره کړه او د مبارزې زړې يې په ټول هېواد کښې رازرغون کړل.

د روښانيانو په پايځوړ کښې د ايمل خان مومند او دريا خان اپريدي لښکرو د مغلو په ککريو کښې اوبه وڅښې او بيا خوشحال خان خټک د افغان په ننګ توره وتړله اوغږ يې پورته کړ:

و مغـــــــول و ته به نـــن کړم اتك پوله
ملك به خلاص کړم د مغول له غال او غوله

د دې ټولو په پای کښې د هېواد په لوېديځ کښې ميرويس غورځنګ را ولاړ شو او دا سيمه يې د توري او تدبير په ګډ ځواك له ايراني ښکېلاك نه خپلواکه کړه، تر دې چې شاه محمود د وقايوي فتوحاتو په لړ کښې تر اصفهانه ورسېد او د شاه حسين صفوي ورسته واکمني يې رانسکوره کړه. شاه اشرف له ترکانو اوروسانو سره دايران د هغو ځمکو په ر سر چې دوی لاندې کړې وې جګړې وکړې او د ايران د وېشل کېدلو د مخنيوي هڅې يې کولې. له بده مرغه د ميرويس نيکه ځای ناستي دکورنيو مخالفتونو ښکار او د ايراني نادر افشار تر فشار لاندې راغوزار شول او يو ځل بيا د بشپړې ازادۍ په لاره روان هېواد دېر ددو د بشپړ اشغال ښکار شو.

احمدخان دنادر افشار يو ځوان خو پياوړی او غښتلی منصبدار و د هند په فتوحاتو کښې له نادرسره ملګری وُ او د اداري، جګړې او سياست تجربه يې کوله. کله چې نادر افشار د ايران په خبوشان کښې د ده د ساتونکو له خوا ووژل شو نو احمدشاه بابا دخپلو افغاني عسکرو په مرسته هم دولتي خزانې او وسلې خوندي وساتل او هم يې د نادر افشار کورنۍ او اولادونه له بې سترۍ او ضرر څخه وژغورل او وساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دي سمدلاسه کندهار ته راستون شو. د لويې جرگې د تاريخي عنعنې په را ژوندي کولو سره يې مشران سره کښېنول او تري ويې غوښتل چې د آزاد افغانستان له پاره مشر وټاکي او لکه د ميرويس نيکه د دورې غونډې داولس په مشوره اوخوښه په هېواد کښې يو ملي واک ټينگ شي.

جرگه تر اوونۍ زياته اوږده شوه اودنه ورخو ترتېرېدو وروسته چې دافغاني خيلونو مشران دملي مشر په ټاکلو سره يوه خوله نه شول نو صابر شاه ملنگ ددوي له منځه پاځيده له نژدي کروندې نه يې دغنمو يا وربشو وږي راوشکول ،رايې وړل اوداحمد شاه بابا په دستار کښې يې وروټومبل، لاس يې پورته کړل. دعا يې وکړه او ويې ويل چې احمدشاه زمونږ پاچا دی اوکه هر څوځوان دی خو د تدبير او ميړانې له مخې بابا دی. دا ټاکنه جرگې په يوه خوله ومنله او احمد خان احمدشاه شو، بابا شو، د افغانستان پاچا شو؛ چې لږه ساه يې واخيسته په هېواد کښې دننه يې اداره جوړه او امنيت ټينگ کړ نو بيا يې په لښکرکښيو او فتوحاتو لاس پورې کړ، د هېواد په ختيځ کښې يې د هند نيمه وچه لاندې کړه او د ډيلي پر تخت کښيناست. ايران ته په توغ او نغاره ولاړ او دهغه هېواد ډېرې برخې يې لاندې کړې. د ماوراءالنهر زياتې سيمې يې ونيولې او له هغو تولو يرغلگرو نه يې غچ واخيست چې تر ده وړاندې دوې دوې نيمې پيړۍ يې افغانستان تر منځ وېشلی او د هېواد خلك يې ځورولي وژلي او د آزادۍ په جرم په خپلو پاکو وينو لنبولي وو.

احمد شاه بابا يو مدبر پاچا و. ديندارہ او خو د دارہ پاچا و ، د دښمنانو په وړاندې "شديد" او د خپلو په وړاندې "رحيم" و په عدل او داد يې پاچاهي کوله او په توره او مېړانه يې دهېواد پولې ساتلې.

ده دافغانستان سياسي پولې د دې هېواد له طبيعي پولو سره سمې کړې او په وقايوي فتوحاتويې دهېواد پولې مضبوطې او د واکمنۍ پر ځای يې په سيمه کښې يوه لويه ستړواکي ټينگه او افغاني امپراتوري يې جوړه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتنی یادې شوې پېړۍ لکه څومره چې د پښتنو په سیاسي ژوند کښې سپېرې او بدمرغې دي. همدومره د پښتنو په ادبي او ثقافتي ژوند کښې شنې او نېکمرغې دي اولکه څنګه چې په دې دوره کښې تورو (شمشیرها) مقابله کړې همداسې تورو (حروفو) او قلمونو هم مبارزه کړې او په پښتو کښې د ادب یوه لویه ذخیره اوپانګه رامنځ ته شوې ده تردې چې دې دورې ته دپښتو ادب زرین دور ویل کېږي.

روښانیانو چې دبایزید روښان په مشر تابه په مغولو پسې توره را ایستلې وه، ورسره یې قلمونه هم راپورته کړي وو او په پښتو کښې یې دروښانه روښاني ادب خښته په همدې وخت کښې کښېښوده.

تردې وخته پښتو ادب په وقفه یې بڼه اوپه خواره واره ډول زیږیدلی، خلق شوی او تر مونږ پورې رارسېدلی و، له دوهمې هجري پېړۍ نه د امیر کروړ ویاړنه اوربدل کېده، بیا چوپتیا وه، له درېیمې پېړۍ نه د هاشم سرواني غږ زمونږ تر غوږه رارسېدلی و، په څلورمه پېړۍ کښې د شیخ رضي او امیر نصر لودي نیوکې او غبرګون د هغو تکفیرو نو بیان او سپیناوې کاوه چې دښمنانو په دوی لګولي وو، بیټ نیکه دپښتونخوا په یوه بله سیمه کښې له لوی خدای سره د زړه خواله کول اوځو نور د ګوتو په شمېر کسان. له پنځمې پېړۍ نه د شیخ اسعد ویرنی بولله رارسېدلې، له شپږمې پېړۍ نه د شیخ تیمن کاکړ، ښکارندوی غوري، ملکیار غرشین، تایمني او قطب الدین بختیار غږونه اورو، په اوومه پېړۍ کښې پر پښتونخوا د مغولو تاراك د تورو هنګامه هم تود وي او ورسره د تورو او ادب هم، هوتك بابا په خپل رزمیه پارکي کښې ځوانان د دښمن مقابلې ته راغوارې او مبارزې او مقاتلې ته؛ شیخ متي بابا د خدای کاینات په نوي فلسفي نظر ګوري، په اتمه پېړۍ کښې ملکیار هوتك او اکبر زمینداوری ژوند کوي او پښتو ادب ته نوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخښنې لري، په نهمه پیړۍ کښې انفرادي هڅې پراخیږي، د پښتونخوا په ګوټ ګوټ کښې ادبي زمزمې اوري او له پښتونخوا نه بهر هم سلطان بهلول لودي او خلیل خان نیازي په هند کښې پښتو شعر وایي. زرغون خان نورزی او زرغونه کاکړه په پښتونخوا کښې، د شیخ ملي دفتر او دیوسفزو ژوند پېښو په اړه د پښتنو تاریخ هم دهمدې پیړۍ دی. خو موږ ګورو چې دا ټولې حلقې یوله بله بیلې اوخورې ورې دي خو روښانیان دبایزید روښان په مشر تابه دقلم په اخیستو سره ادب ته زماني تسلسل ورکوي اوټولې کړۍ یې دېرله پورې لړۍ بڼه نیسي او یو داسې ادبي بنسټ ږدي چې پیا وروسته د پښتو ادب طلایي مانۍ پرې ودانیږي.

دروښاني ډلې مخکښ لیکوال په خپله بایزید روښان و، چې بیا پسې ارزاني، میرزا، مخلص، دولت، واصل، کریمداد، ملاعمر او نور د روښاني ادب ډیوه روښانه ساتي. اخوند درویزه که څه هم فکراً له دوي سره مخالف او د مغولو پلوي دی خو د ادب په منډ کښې همغه د روښانیانو لاره نیسي؛ دی، زوی یې کریمداد اونور پیروان یې همدالاره پالي اوپښتو ادب ته بخښنې کوي. وریسې خوشحال خټك هم د توري تر څنګ خپل تېره قلم هم راپورته کړې و او په پښتو ادب کښې یې بنیادي تیږې کښېښودې ده په خپل کور کښې د ادب یو روزنځی او پوهنځی جوړ کړ، ګڼ شاعران زامن او لوڼې یې ټولنې ته وړاندې کړل اوګڼې ادبي هستونې وشوې، اشرف خان هجري، عبدالقادر خان، صدر خان، سکندر خان، بهرام خان، ګوهر خان، حلیمه، سعید، آزادخان، کامګار خان او نور د دې کورنۍ خوږ ژبي شاعران دي چې ډېر پیاوړي شاعر یې کاظم خان شیدا د احمدشاه بابا همځولی او همعصر و.

د خوشحال خان خټك له ادبي پیل سره د پښتو ادب زرین دور پیل شو چې نه یوازې په خټکو بلکه د پښتنو په بیلابیلو خېلونوکښې پیاوړي شاعران رامنځ ته شول او د پښتو ادب یوه نوې هنګامه یې توده کړه لکه د ټولو پښتنو منلی بابا رحمان بابا،

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمیدمومند . خواجه محمد بنګښ. یونس خیبری. قلندر. مصري خان ګګیاني. معزالله خان مومند . اشرف خلیل، میامحمدي صاحبزاده. خنګل خلیل، نجیب سربندي. پیر محمد کاکړ. علیخان مهمنزی، ابوالقاسم، الپودي حافظ. عبدالعظیم زانیزی. محمد هوتك، زرغونه انا ، بي بي زینبه، شاه حسین هوتك. ریدي خان مومند ، ملانور محمد غلجی، عبدالرحیم هوتك او نور په لسهاؤ پیاوړي اوخوږ ژبي شاعران او ادیبان او د پښتو ادب دا اوج، موج، عروج او ځپاندي د احمدشاه بابا دژوند تر پایه را روانه وه، ده دهمدي طلایي عصر په پایخوړ کښي ژوند کاوه اوپه پښتوادب کښي یې مخې ته پخې ادبي تجربې پرتې وې.

[۳]

احمدشاه بابا دوخت ناوړه سیاسي حالاتو اودپردیو یرغلونو دتوري اخیستلو ته وهڅاوه اودپښتو ادب بې ساري ودې او پرمختګ دقلم اخیستلو ته، دی د خپلو پښتنو باباګانو امیر کروړ، بایزیدروښان، خوشحال خان ختك، سیدال خان ناصر، شاه حسین هوتك د توري اوقلم په ګډ میراث کښیناست او دواړه یې ښه وځلول اوښه وچلول.

هو! د بابا سیاسي، نظامي، اداري او جنګي اړخ تاریخونو ډېر څېړلی او ځلولی دی تردې چې دده علمي، ادبي، تصوفي او فکري اړخ یې تر سیوري لاندې راغلی اوډېر لږ رابرسېره شوی دی.

موږدلته دده دژوند له لومړي اړخ نه تیریږو اویوازي پر دوهم اړخ یې غږیږو ځکه چې زمونږ له دې څېړنې اوددې دیوان سره یې همدا اړخ اړخ لګوي .

احمدشاه بابا مخکښې له دې چې واکمنی ته ورسیږي مشران یې دقوم مشران اوپه وړه کچه حاکمان وو نو دی له هماغه ماشومتوبه لکه څنګه چې دلوړو کورنیو عادت ؤ تر روزنه لاندې نیول شوی اودرس اوزده کړې ته کښېنول شوی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابا په تنکی ځوانی دپښتنو دکورنیوقابتونو له امله د شاه حسین هوتك له خوا هغه وخت زنداني شو چي له خپل مشر ورور ذوالفقار خان سره له فراه نه کندهار ته راغی. دی شپږ کاله د شاه حسین هوتك په زندان کښي و او د ځوانی د فکري ودې دا مهمه دوره يې په زندان کښې تېره کړه.

د احمد شاه بابا د زندان د دوري په باب تردې زيات هېڅ معلومات نشته خوزه فکر کوم چي دزندان دي دورې ده ته د يوه ښوونځي کار ورکړی وي او تصوف او ادب ته يې چې دواړه فکري تمرکز غواړي همدلته توجه راګرځېدلي وي.

دی له يوې خوا د پښتنو ديوې درنې کورنی غړی و، د شاه حسين هوتك کورنی هم يوه درنه او پښتنه کورنی وه، نو د ده د ورور بند د سياسي ملحوظاتو له مخې و چې دی ضمنا ورسره بندي وو، زه باور لرم چي دوی ته به د پښتنو مېلمنو په توګه په بند کښي تسهيلات او اسانتياوې برابرې وې او څرنګه چې د شاه حسين دربار د علم او ادب دربار و نو يقينا چې احمد شاه بابا ته به دکتاب او مطالعې اسانتيا وې موجودې وې، ده به زده کړه او مطالعه کوله اوڅرنګه چې د شاه حسين هوتك دربار د پښتو ادب د ودې دربار و نو فکر کيږي چي احمد شاه بابا به ادب ته دمخې کولو په لاره کښي دهمدې ادبي محيط تر اغيز لاندې راغلی وي، که څه هم ده ته ديوه بندي په حيث داسې مجالسو ته د تلولاره نه وه خو د دې ادبي هڅو فعاليتونو او منظم ادبي دربار نه چې هره اوونی به يې د نارنج په مانی کښي غونډې کولې، خبريده اواغېزمن کېده.

د۱۳-۱۴کلنی سن دزده کړې ،اخذ او استعداد دغوړيدنې سن وي. دی په بند کښې له نوروټولو مصروفيتونو نه بې غمه و او کتاب اوادب ته يې چي مخه شوې وي نو بيا د ده د ځپاند استعداد د غوړېدنې له پاره يو طلايي فرصت و او د ده د خدای ورکړې فراست او ذهانت د ودې له پاره يوه ښه زمينه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد شاه بابا دپاچا کېدولو په لومړيو دوو کلونو کښې خپل لومړی ديوان راغونډ او ترتيب کړ او دا هم ګواهي لي چې ده شاعري تر پاچاهۍ ډيره وړاندي شروع کړې اوبيا هم زما اټکل دی چې د اديب پاچا له همدې زندان نه به د ادبي مدرسې په توګه خپله شاعري او خپل ادبي فعاليت رانښلولي وي.

[۴]

احمد شاه بابا له تنکۍ ځوانۍ نه تر مړينې پورې پر له پسې شاعري کړې اوزياته ادبي پنګه يې موږته راپرېښې ده .

لوی استادعلامه عبدالحی حبيبي په "لوی احمد شاه بابا" کښې احمدشاه بابا د خوشحال خان خټک د ادبي مکتب پيرو بللی او د ده وينا ساده، له پيچلو استعارونه لرې خوږه او دلکشه ګڼي (لوی د احمد شاه بابا پنځم مخ) خو په پښتانه شعراء کښې خپله خبره بيرته اخلي او د رحمان بابا دادبي مکتب پيرو يې ګڼي (پښتانه شعراء۱/ ۳۳۰مخ)

لوی استاد د خوشحال خان خټک د ادبي سبک او مکتب ځانګړنې داسې شمېري:

۱- دې سبک د پښتو شعر ډېرارت کړ، علاوه پر غزل، مثنوي، قصيده، رباعي چې تر خوشحال دمخه ويل شوي وو ده نور ټول دعربي اوفارسي دشعر اقسام په پښتو وويل او ځينې ابتکارونه يې هم د شعر په اقسامو کښې وکړل.

۲- په دې سبک کښې هر ډول صوفيانه، اخلاقي، فلسفي، فکاهي مضامين او مدح، رثاء، محاکات، اجتماعي خبرې شته چې ملي عواطف او مزايا هم تلقين کوي اويو ښه حاوي اورات سبک دي.

۳- په دې سبک کښې دپښتو اوپښتونوالی او د پښتنې اخلاقو او ملي احساساتو روزنه هم شته او د خوشحال خان خټک خپل اشعار د ملي جذباتو ډک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- په دې سبک کښې - اوږدې اوږدې قصیدې پر یوه موضوع چې شاعر غوره کړې وي ویل شوې دي چې هره قصیده یو بېل اجتماعي یـ تبلیغي یا تاریخي مضمون دی.

۵- په دې سبک کښې بدیعي صنایع او تلازمات او تشبیهات گډ شول مگر دومره ده چې شاعرانو یې د اشعارو ساده گي او سلاست، تر صنعت اوتکلف قربان نه کړل او د طبیعت له لمنې څخه ونه وتل او ډېرې پېچلې وینا وې یې په اشعارو کښې رانه وړې.

۶- حماسي احساسات په خپله خوشحال خان په دې سبک کښې راوړل اوشاگردانو یې هم لږ-لږ پیروي وکړه.

۷- تنقید اوهجو هم په دې سبک کښې شته او پښتو شاعرانو مخصوصاً د مغولو د استعمار طلبانو ډېره هجو او غندنه کړې او د پښتونوالي په مقابل کښې یې د مغولوالي کلمه جوړه کړې ده.

۸- د دې مکتب په اشعارو کښې ډېر حکم او نصایح اوفلسفي مطالب شته چې د ژوندون اسرار او دقایق پکښې نغښتل شوي دي.

۹- د ادبي ارزښت له پلوه دا سبک تر ټولو جامع اوښه دی چې معنوي او شعري دواړه قوتونه لري.

۱۰- په دې سبک کښې خورالوړ اودنزاکته ډك شاعرانه تخیلات شته او دتخیل نوښتونه لري چې طبیعي رنگ له لاسه نه ورکوي (پښتانه شعراء/ ۲۸-۲۹مخونه).

اروانباد علامه حبیبي درحمان بابا د سبك ځانگړنې داسې یادوي:

۱ - د دې سبك شاعر د روح الهام مني، د مادې سره یې ډېر سر و کار نه دی، د هغې دنیا څخه خبرې کوي چې ابدي دنیا ده.

۲ - د دې سبك شاعر له مادي کثافاتو څخه لېرې کېږي او هلته ځي چې صلح کل دی او د دې خاورینې نړۍ شور ماشور پکښې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ - دا سبك په ادا او د احساساتو په تصوير كې سپېڅلى او سليس دى. ابهام پكښې نه كېږي او د شعر الفاظ ساده او ښكلي خوښوي.

۴ - غزليات. قصايد. رباعيات او د شعر ټول اقسام په سپېڅلي ډول وايي او له مينې او اخلاقو څخه ږغېږي.

۵ - د عشق او مينې په دنيا كښې هم د واقعيت خوا ته ځي او د خيال لړ تابع كېږي.

۶ - د دې سبك شاعر عشق او الهام د ژوندون مدار ګڼي. يقين او ايمان پر عقليت غوره ګڼي. (پښتانه شعراء، ۱/ ۳۰-۳۱مخونه.)

زما له نظره احمد شاه بابا د شاعرۍ ځانګړى سبك لري، د چې خوشحال بابا د سبك لړ لړ نخښې هم پكې شته، د رحمان بابا د سبك ځينې ځانګړنې هم لري او د روښانيانو د سبك او حتى د ده د معاصر او د دربار د شاعر پير محمد كاكړ د سبك رنګ هم پكښې شته چې زه دلته دا ټول سبكونه نه څېړم، بلكه په لنډيز سره وايم چې:

د احمد شاه بابا د شاعرۍ په تصوفي اړخ كښې د رحمان بابا د سبك پر اغېز سربېره د روښاني تصوف رنګونه هم جوت او ښكاره دي او خصوصاً شعر يې د شكل له اړخه تر خوشحال بابا او رحمان بابا ډېر زيات د روښاني شاعرانو رده پالي او تر ډېره حده د رحمان بابا د شعر له سلاست او د خوشحال بابا د شعر له صلابت نه را تيټ دى او ان كله كله له فني ګډوډيو، د قافيې له ګنو عيبونو سره مخامخ او د بحرونو او سېلابونو له كچ او مېچ نه پرېوتى دى.

همدا راز د احمد شاه بابا د شعر يو خوندور اړخ د اولسي ادب رنګ دى، چې پرې پروت دى او ډېر بيتونه او غزلونه يې له تاريخي نارو، غاړو او د ميندو او ماشومانو له سندرو سره نژدېوالى او ورته والى لري او اولسي ژبه او ادا ساتي.

لكه دا بيت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخـــــامخ راغله زیړی
زنګ یې ګل سترګې ګلی
کټ مټ د "غاړې" په بڼه دی

په دې توګه د احمد شاه بابا شاعري که کوم ځانګړی ادبي مکتب نه دی، نو د سبك له مخې یقیناً چې ځانګړي کړه وړه، جوړښت او پایښت لري، چې تاسې به د دیوان د لوستلو پر وخت دا ځانګړنه او بېلوالی ښه ترا محسوس کړئ.

[۵]

د احمد شاه بابا د دیوان ګڼې، قلمي نسخې موندلې کېږي، موږ د ده د دیوان نسخې په دوو ډلو وېشلای شو. یو د هغه دیوان نسخې دي چې ده د خپلې واکمنۍ په څلورم کال راغونډې کړې او زیاته برخه یې د ده د ځوانۍ او د پاچاهۍ تر دورې وړاندې شعرونه دي، دا دیوان بیا بیا نقل شوی چې ګڼې نسخې یې راپاتې دي او په پای کښې یې دا بیتونه راغلي دي:

کتاب ختم شو په دوشنبې	یارانو موږ به څو تاسو دلې
پـــــه اخر ورخ د روژې	سنه هزا و صد شصت و سې
ارام وربـــــاندې نه وي	بیا په صبر یې شي تسلي
احمدپه دعا یادکانی یارانو	چې په کار یې شي په ورځ د خولې

د دې دفتر په اکثرو شعرونو کښې د ده نوم تش "احمد" راغلی او یوازې هغه غزلې یې "احمد شاه" لري چې د شاهي پر وخت یې ویلې.

بل د ده د دیوان هغه نسخې دي چې د ده تر مړینې وروسته راغونډې شوې او د ده ټوله شاعري پکښې خوندي ده، د دیوان د دې بشپړ متن نسخې محدودې او معدودې دي.

د احمد شاه بابا دیوان لومړی ځل علامه عبد الحی حبیبي د لوی احمد شاه بابا په نامه له یوې مفصلې او مبسوطې سریزې سره په ۱۳۱۹ المریز کال په کابل کښې د پښتو ټولنې له خوا خپور کړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم ځل په ۱۹۶۳ میلادي کال د پېښور د پښتو اکیډمۍ له خوا په پېښور کښې خپور شو که څه هم د پېښور چاپ. د خطي نسخو تر څنګ د کابل له چاپ نه هم استفاده کړې. خو ډېرې غزلې ترې پاتې شوې او یا یې پرې ایښې دي. په همدې ترتیب د پېښور د چاپ زیاتې غزلې د کابل په چاپ کښې نشته او له خطي نسخو اخیستل شوي، فکر کېږي چې دا به د ستا د حبیبي په لاس کښې خطي نسخو نه درلودې او یا به یې ځینې ده قصدا پرې ایښې وي ځکه ډېرې ابتدایي او خامې غزلې پکښې شته چې تنقیح شوې او تصحیح شوې نه دي او د بابا د دیوان د ابتدایي مسودو ښکاري.

په هر حال دا چاپ د بابا ټول تر لاسه شوی کلام لري او د دې دوارو چاپي نسخو له مخې تیار شوی دی. له دویم چاپ نه اخیستل شوې غزلې او بیتونه په ستوري نخښه شوي او په ګډو غزلو او اشعارو کښې د کابل چاپ متن ته ترجیح ورکړل شوې ده.

ګران مومن موحد د بابا د دیوان دا کار په خاصه مینه او جذبه کړی او په خپل لګښت یې تاسو ته وړاندې کوي چې د ده دا له خپل ملي کلتور، ادب او معنوي شتمنیو سره مینه د ستایلو او مبارکۍ وړ ده.

په درنښت

حبیب الله رفیع

حیات اباد، پښتونخوا

۱۳۷۷/۱۲/۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزلیات

۱

(۱)

بسم الله الرحمن الرحیم زما   ده در د زړه په اقلیم زما
بسم الله الرحمن الرحیم زما   بصر د زړه ده سلیم زما
بسم الله الرحمن الرحیم زما   ب باور میم در نعیم زما
بسم الله الرحمن الرحیم زما   بسم "الله"د دهر ابر کریم زما
بسم الله الرحمن الرحیم زما   ده د روح بحر عمیم زما
بسم الله الرحمن الرحیم زما   نور د زړه په حریم زما
بسم الله الرحمن الرحیم زما
"احمد" نا.... رب رحیم زما

❁❁❁

(۲)   (۷)

که ووایم زه رشتیا   وابه نه ورمه له تا
ما ناموس دربانديږ ایښی   که بد نوم مې وي په دا
بد نامي مې نیکنامي ده   که مې مینه وي رشتیا
چې رقیب په سترګو وینم   توکل په ربنا
له اوله سر بازي کړم   په تبره توره دلا
که مې لانفی الا کړه   زه به تل اوسم بقا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختیارو ووت له لاسه — نه نداره "قالوا بلی"
معرفت "قالوا بلی" دی — بیا ده نفی ماسوا
❁ بقابخره مشوشه — الف یوتر ابدا
❁ احدیت د "ب" باور شو — "ت" توحید وایه ما
❁ "ث" ثبوت نور کرم — ثبوت نور د مصطفي
❁ چي عالم پیدا نه ؤ — ما د نور ترله ملا
❁ دي آمرزنده د هر چا — په قدم یي شه فنا
د وحدت پر مځکه اوری — هویت خره معنی

دا ویل پرېږده "احمده"
که ویل د مصطفیﷺ

❁❁❁

(۳) — (۲۲)

په خوا راغله محبوبا — عجب ښکار کا دلربا
❁ هره چار له مکاری کا — د عاشق خونه فنا
دا پخپل حسن غره ده — پر عاشق پر و ته بلا
علاج نه لرې عاشقه — پرې کړه سر په تېغ د لا
که ته سر پریکړی راشې — دا به ووینې اعلا
رقیبان دي په دالار کښې — وایه تل "لاحول ولا"
که ته خلاص شوې له رقیبه — کړې به سیر "الی الله"
"الی الله" سیرونه ډېر دي — مېوه واخله د بقا
د بقا مېوه هم پرېږده — کړه د "هو" پټکی تر ملا
که د "هو" پټکی تر ملا کړې — جهان ستا تر ابدا

"احمد" خدای په مل اختیار کړه
چې اختیار مشکل کشا

❁❁❁

(۴) (۳۳)

اوس زه ستا کوم ثنا — ای فریاد رس شها
لاس په سر درته ولاړیم — یار له مامه کړې جدا
ارمان هزار ارمان صنم — مالا په هیڅ حالت مه کړه سوا
اس د خیال دی په شان دی — په قدم قدم په چشمو زما
آفتاب چې دی له مخه رنك زیړی کا — ترو په کوم حسن سمی کړي له تا
آسمان که مخ نسکورمځکی ولور ته — ګنه یا دیي شوه د ستا د قد علیا
آیینه چې له شصته دي جلوه کا — له حیرته سترګی څو ړی ثریا
آبی مخ زه اوره رنك ژړا کړم — له ژړا مي د سیني زیړی لالا
آبیه د مجنون له مخي ولاړ شه — له دنیا چې په ارمان و ته لیلا
آب حیات دی له زنخه معلومیږي — له غابنونو صبحدم کوي خندا
اشنا یې جانه هغه بللي بویه — چې په غم وخوږ زهیروي د اشنا
ابد د رحمت که سر ببرون کا — چې په داغ زړه د لا لا و که ژړا
انکښ یې د سرو زرو تورې خاورې — چې پرې نه وي د شهلا سترګو رڼا
اورمې په زړه بل دتا د عشق دی — آرزو مند دی ددیدن یم دلربا

احمد په یار قسم دی بی له یاره
که به خوښ وی په دنیا یا په عقبا

❁❁❁

(۵) (۴۸)

که په زړه باندې هر څو کوم دوا — بې لیدنه به جوړ نشي راته دا
زما زړه که دلې وای ما به دوا کړه — باري وری دی د یار مهر ووفا
معشوقه په هسکواله لکه اسمان شوه — و اسمان وته لاس نه رسي د چا
چې له لاسه نا امیده هم له پښو سي — بل امید یې پاته نسي بې له خدا
مینه هیچیرې په زرو په زور نسي — د شها مینه په روح ده زړه لتا
محبت که یې په زرو یا په زور وای — نن به مینه وه حاصله د هر چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وښــه عـــشق لـره فـنا نشته هېڅېرې — سي فـــانـــي بـاقـي، بـقـاسي هم فنا
چې فاني سي دا باقي، بقا فنا سـي — عشق به سي فنا بقا هـــم بـيا لـقـــا
نور به درسي ده بقا بـې نـهـــايتـه — تـــا بـــه هـلـــه کـالـه عشقه بيا جدا
چـــې له عشقه دې جدا کړی زما جانه — دربه ســي معـنــى وتــاوتـــه دانا
دغه عـــشق بـــه لـتانه ځـي تل تر تله — له ســـواوو بـــه ســوا کــړې ته سوا
چې سوا تـه له ســواو وکــړې سوا — معرفت په معرفت بـــه ســي رونـــا
مـــعـرفـت ګوره له ياره سره دادی — بـــې لـــه ځانه به يار وينې هم اشنا
❁ هم يې عشق يو اراده دی که پوهيږی — اراده يــې بـــيا زېـــور کـــړه د بـقا
❁ پـــه نــظر د تــاد يار تـفاوت نــسته — لکه دوه سترګې د چـــا چې وي بنا

وايې غوست بوقلمون کميس"احمده"
نه دی رنګ له بـلـه رنګه يک تنها

❁❁❁

(٦) — (٦٤)

راســـــه راســـــه مــــرحبا — ته لـــه خدايه غوښتـې مـــا
هـميشه مـی يـــاد ولـــې! — ای زمــــا د زړه صــفـــا
آراســتـه که پـــه دنيـا يـــم — زه بی څو کـــوم بـــې تـــا
هـمېشه زاري دعـــا کـــرم — چـــې مې تـل وای دلربا
مرګــی ښه دی په دنيا کښې — نه چـــه څوك سي بې وفـــا
سر پـــه تېغ پريکړی ښه دی — تـــــر بـــې پـتـــه په دنيا
چـــې زه سرپه بورجل کښيږدم — نـــور بـــه څـــه کړې راته وا
چـــې يې سر په مينه کښيښود — هـغـو يـو وړه مـحــبـوبـا
چـــې مـــې مـــينه يـا دوله — تېـر تـــر ځان وم لا پخوا
ای دلـبـره زړه به ښـــه کړې — کـــه تـــه واورې دا زمـــا
❁ چـې د زلفو پـه دام کيووت — دا عـــاشـق ووې بــــلا
❁ دا رضـا بـه پـه رضا کـــه — کـــه تــــه هـــم کـــوی رضا

پــه کـار نــه دي بـــې له تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

"احمد شاه" ته دواړه سرایه

❁❁❁

﴿۷﴾ ﴿۷۷﴾

چې معشوق عاشق ته وایي بې حیا — بې حیاء دی عاشق نه وي بې ثنا
دا د عشق په اور صیقل د عاشق زړه دی — په هیڅ شي به دی نور نه شي ناصفا
لیونی به د صحرا ولورته راسی — که پر راسی ستا له مخه یو ضیا
که دستګیرې مې دا ستا زلفینې نه شوې — تل به یم د فقیرۍ په انزوا
هر یو زړه چې په مژګانو ستا زخمي سو — بې دا ستا له سترګونه وینې شفا

چې په څه یار راضي کیږي" احمد شاهه"
که په سر وي که په مال وي زموږ رضا

❁❁❁

﴿۸﴾ ﴿۸۳﴾

ستا له مینی په عالم کښې سوم رسوا — لرو ډیر خو د زړه حال وماته وا
چې دې حسن له دنیا څخه عروج کړ — ګنه زما خته خمیر وه په عشق ستا
تور طالع به زما سپین پر دنیا نه سي — مګر ستا میني پرې وکړه تجلا
نور د حسن دې تمام له ځانه بیل کړم — څکه نور د جهان نه وینم بې تا
چې مې زړه هسې دا ستاد نور دفتر سو — دغه زړه په زړه خبر کړم لا پخوا

"احمد شاهه" همیشه خوښ اوسه له خدایه
چه مرآت د زړه دی خدای کړه محبوبا

❁❁❁

❁ ﴿۹﴾ ﴿۸۹﴾

راشه راشه دا معنی څه ده ملا
معنی له لفظ کوم لفظ دی له معنا
یومرغه سینه په اورېښې په اوبه سرپه اوره کښې
خوراك یې دسیني لارووطن پټ په خپله ها
اوراوبه اوره په خپله ها کښې منجمد شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هاخـالي مرغـه تـروو اوس پـه خپله كه ثنا
دوه يې ځانګې ځينې بيل دى نه نوى شتى
پرواز يې پـه انديښنه حكم كه په چا بلسا
شپړ مښو كې يو له بله پټى لس يې ستركې
پنځه د شپې پنځه كا تـه د ورځې كه په غلا
اوو يې ژبى دوه يې سره د هر سر نور جدا
شپړ قرارى او اوومـه يې د خپل صفت ګويا
مـزكـه عـدم تخم معدوم ځمزمان د تسلسل دي
ددى مزكى تخم ځمراوپه اوره شنه والىوجود فنا
"احـمـد" چې دا بيانـكه هر طالب به طبع وايي
ګـرانه نه ده ... ايمان عـقيق كـاندى فـضلا

❁❁❁

(۱۰) (۹۷)

كـه زه نـوريـم سـتا د كوريم محبوبا   هسى نه چې د پېغوريـم محبـوبـا
نه د اصل لاف كـوم نـه د خـبـرو   اور لـرونـى سـتـا د اوريـم مـحبوبا
كـه دا ستا نظر پر ماوى تر لمر لوى يم   كـه نـظـر كـړې هومره نوريم محبوبا
كـه قـدم زما پر سر ږدې اې دلبره!   زه خـو خاورې ستا د لور يم محبوبا
چې قدم مې ستا د خيال په خاطر راسي   زه خـو سـتـا د خيال انځور يم محبوبا
زه پـه دا لـه نور عـالـمه بيګانه شوم   چـې لـه زړه په عشق خمسوريم محبوبا
لـه "احـمده" مـه غـواړه بې وفايى
ستا په ميـنـه سـره تـوريـم محبـوبـا

❁❁❁

(۱۱) (۱۰۴)

وبـورجـل تـه دې ولاړ دي مـيـنـان ستا
كـه يې وژنې خو په حـكـم دي روان سـتـا

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library